ما پريږدئ تر څو چې ما پرېښي ياست، يقينا ستاسو څخه مخکيني خلک د ډېرو پوښتنو او د پېغمبرانو په سر د اختلاف له امله هلاک شوي دي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (ما پريږدئ تر څو چې ما پرېښي ياست، يقينا ستاسو څخه مخکيني خلک د ډېرو پوښتنو او د پېغمبرانو په سر د اختلاف له امله هلاک شوي دي، نو کله مې چې له يو کار څخه منع کړئ نو ډډه ترې وکړئ، او کله مې چې درته په يو څه امر وکړم نو د خپلې وسې په اندازه يې پر ځای کړئ).

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې شرعي احکام په دريو برخو وېشل شوي دي: هغه چې سکوت پرې شوی دی، او ممانعتونه او اوامر دي. لومړی: هغه څه دي چې شريعت يې په اړه چوپ پاتې شوی او هېڅ حکم يې نه دی کړی، او اصل په شيانو کې دا دی چې واجب نه دي؛ د هغه صلى الله عليه وسلم په زمانه د يو کار په اړه چې لا واقع شوی نه و د پوښتنې کولو څخه ډډه کول لدې امله اړين و چې هسې نه واجب شي او يا روا نا روا وګرځي، ځکه چې الله تعالى پر بندګانو د رحمت له مخې پرېښې وې. خو د هغه صلى الله عليه وسلم له مرګه وروسته که پوښتنه د فتوا يا تعليم په ښه وي چې په ديني مسئله کې ورته اړتيا وي، نو روا ده بلکې امر پرې شوی دی، او که هغه د مشقت او تکلف له مخې وي نو د همدې ډول په اړه په حديث کې د پوښتنې کولو ممانعت راغلی؛ ځکه کېدی شي له امله يې داسې څه رامنځته شي لکه په بني اسرائيلو کې چې پېښ شوي و، کله چې هغوی ته د غوا د حلالولو امر وشو، نو که دوی هره غوا حلاله کړې وه، امر به يې پر ځای کړی و، خو هغوی سختي وکړه، نو سختي ورسره وشوه. دويم: ممانعتونه؛ او هغه عبارت دي له هغو کړنو څخه چې پرېښودونکي ته يې اجر او کوونکي ته يې جزا ورکول کيږی، نو له ټولو څخه ډډه کول واجب دي. دريم: اوامر دي؛ هغه کارونه چې تر سره کوونکي ته يې ثواب ورکول کيږي، نو د وسې په اندازه پر ځای کول يې واجب دي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4295